فزیک

# دویمه برخه

برېښناپوهنه

لیکونکی: برینکمن ن ج څخه

ژباړی:ډاکتر ماخان (میړی ) شینواری

Ketabton.com

2018

د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو لوستونکو!

د برینکمن نج لیکنې راته ډېرې ښې برېښېدلې،نو له دې امله مې تړولې ګرانولوستونکو ته په پښتوورږاندې کړې.

په دې لیکنه مې تمرینونه ونه شوکړای راوړم، خو که د لوي ښښتن مهرباني وه،دا کاربه هم سرته ورسوم، چې هغه به هم بیا – که د لوي ښښتن امر وو- زموږد ځوان انجنیر صیب شمشاد زهیر په مرسته له همدې ن ج څخه له تاسو سره ګډ کړم.

هرکتاب چې لولې له دې د مخه یې سریزه لولې، چې لیکونکي(ژباړي یې) یې د لوستلوله پاره څه وړاندیز کړی.

موږ اوتاسې د لومړي ځل له پاره د داسې برینښنا پوهنې سره مخامخ کیږو، چې نږدې ټوله په پښتو لیکلشوې.،هرڅه نوي دي،خو دا چې په خپله ژبه دي، ښه پوهوږدي.

که د هر څه لومړی ځانونه د برېښنا پښتونومونو سره بلد کړی، ځوبده به نه وي، چې د نورو ستونځوسره مو مخامخ نه کړي. دا څه برېښناپوهنې نومونه چې په پښتو دې ښه پوهوږدي.

د ژباړې وتونژبه الماني ده، نو له دې امله مې نومونه هم وسره الماني لیکلي. ګران لوستونکي که وغواړي، د انګریزي او عربي نومونه یې هم د ن ج څخه میندلی شي.

داڅه چې په پښتوشوې،زه هڅېدلی یم، چې له ځانه څه ونه لیکم او موخه وره ژباړه مې کړې،چې څه دي،هغسې مې بیرته په پښتوورکړي.

د یوه کس کار له نیمګرتیاو ډک وي. که ګران لوستونکو څه وړاندیزونه لروده، نو زما د برېښنا پتې له لارې یې ماته را استولی شي. هیله ده،چې په سره سینه او مینه یې ولولی.

ګرانو لوستونکو! د یوه کس کار پوره نیمګړتیاوې لري، خوما د سمون او ښه والي له پارهپوره خپله پوره هڅه کړې.

ستاسو ماخان (میړی)

زما برېښناپته: smakhan1946@gmail.com

# نیولیک

(c) ketabton.com: The Digital Library


بربښنا ته ننوتنه ۶

.بربښنايي بهيدنګردئ ۶

برابربهيدنه، بدلبهيدنه ۸

الکتروستاتيک ۹

ستاتيکي ۹

د زياتيز او کميز بار په منځ کې ۱۱

بربښنا په ارام حالت کې ۱۲

بربښنايي ورشو ۱۳

باربيليدنه ۱۴

په ب‌هيدنګردئ کې کچون - او شمی. ۱۴

- د راکښنپيداکيدنې يا –جوړېدنې ۱۴

- په بهيدنګردئ کې کچونه ۱۴

راکښنکچونه ۱۶

د بربښنايي بار اتوميکي ۱۸

- اتم(د بور اتممودل) ۱۸

- يونی کونه يونونه ۲۰

- د باربيليدنې له لارې راکښنن ۲۱

رېلې او تليفون

خوزنده بارونه ۲۲

فلزي وړوني اونه وړوني ۲۲

بهيدن – راکښنکچونه ۲۴

راکښنکچونه ۲۴

بهيدنه او راکښنکچونه ۲۵

الکتريکي – بربښنا يې مقاومت ۲۶

په بهيدنګردئ کې کچوني ۲۶

- بهيدنکچونه ۲۷

- بهيدنکچون الې ۲۸

- د باتري کپه ښيتي يا – ۲۹

د مقاومتونو پرلپسې تړنه ۳۰

- پرلپسې تړنه ۳۱

مقاومت او د اوم قانون ۳۴

مکنيتورشو له سيم او غوتې ۳۶

په مکنيتورشو کې وړونی ۳۸

- په مکنيتورشو کې وړونپتئ ۳۸

- د مګنيتورشو شميرنه ۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴۲

بریښنا ماشین د تلمګنیت سره ۴۴

بریښنامګنیتیکي کچ الي ۴۶

الکترومګنیتیکي اندکشن ۴۸

اندکشن ته بنستیز ازماېښت ۴۸

ټولبهیدنماشینونه ۵۱

د اندکشن له لارې جګه راکښنه. ۵۲

د لنځ لار یا -قانون ۵۶

د برابربهیدني جنراتور ۵۶

جنراتور ۵۶

د بریښنایي انرژي جوړونه ۶۰

د کسلګردۍ ځغاسته ۶۱

اغیزدرجه ۶۲

ډیزلزورکاراله( بټۍ) ۶۳

د باد - یا اوبوزورکاراله(بټۍ) ۶۳

لمرزورکاراله ( بټۍ) ۶۴

د لمرکوټه کیویا حجرو سره زو ۶۴

بیوغازروزکاراله یا بټۍ:

ترانسفورماتورونه ۶۵

ځرخیدنبهیدنه ۶۷

د ځرخونبهیدني جوړښت (-ونه) ۶۹

تخنیکي بهیدنلور اوفزیکي بهیدن ۷۲

نیموړونی ۷۵

وړونی اونیموړونی ۷۵

په نیموړني کې وړونمیکانیزم ۷۸

دوتیرشوی نیموړنی ۷۹

n- وړونی په یوه بهیدنګردۍ کې ۸۰

نیموړوندییودونه ۸۲

دیودونه ۸۳

- د نیموړوندییودونو تخنیکي ک ۸۹

- کوندنزاتور ۹۱

- پولټرنه ۹۳

ترانزیستور

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦٤

انرژیحورېدنه د د تودوخیزو ډېرانونو

ارزښت اړوني له لارې
٦٤

بریښنا ویونه په پښتو او الماني ١٠٤

د ډاکتر ماخان شینواري

چاپ شوې لیکنې: ١١١

د لیکوال ژوند ته لنډه کتنه ١١٦

٩٤ د ترانزیستورفزیکي جوړښت
٩٤

د ترانزیستور افکت
٩٧

ترانزستورترړنه
١٠٠

کارټکي ټاکنه ١٠٠

ترانزستور د تړوني په څیر
١٠١

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوي ښتن په نامه

## الکتریک یا برېښنا ته ننوتنه Einführung in die Elektrik

## برېښنايي بهيدنګردی Der elektrische Stromkreis current circuit

په ورځني ژوند کي موږ هرځای د برېښنا سره سراوکار لرو، پخلنځی، کور، کارځای، راديو،لاسي ساعت .....
ازماېښت: يوه ( د برېښنا) بهيدنګردی د راکښنسرچيني سره په فکر کي راولۍ.

يادونه: ما زيات وخت راکښنه يا راکښنسرچينه ليکلي،خوکه لړاوړده يې وليکو، نودا به راکښنتيلوهنه،همدسي راکښنتيلوهنسرچينه وليکو.

د برېښنا بهيدنګردی مودل اود اوبوسره يې ورته والی.

| له پورته کيڼ ښخه کښته ښي لورته | له پورته کيڼ ښخه کښته ښي لورته |
|---|---|
| ورتلونی،پم،استعماليدونی،داوبو ودل برابر بهيدنه،،بيرته تلنه يا بيرته راتلنه | برېښنا(راکښن)سرچينه،استعمالونکی،ورتلونی ،د برېښنا ګرديتلنه،بيرته تلنه، مخ ته تيلوهنه، رانيونه |

(c) ketabton.com: The Digital Library




په یاد ولره: برېښنا بهیدنه کیدی شي ټیک هلته وبهيږي، که بهیدنګردی تړلې وي.

د بهیدنبهیدو لپاره فزیکي روښانه ونه: په یوه سیم کې په خیال کې د نه راتلو ښخه زیات میتال اتمونه یوبل سره ټینګ په ټینګه پراته دي. د میتال اتومونوپه منځ کې وړې الکتریکي ټوټې پرتې دي، چې الکترونونه بلل کیږي. دا کړی شي د سیم په دننه کې بې بندیزه وځغلي، مګر سیم نه پرېږدي. دا په سیم کې رابند دي، لکه اوبه په یوه نل کې. که یود مسو ټوټه په یوه بهیدنګردی کې راوړل شي، نو په دې کې الکترونونه ورننباسل کیږي. هره راکښنسرچینه دوه قطبونه لري، یو کمیز- اوبل زیاتیز قطب. په کمیز قطب کې الکترونونه دباندې تیله کیږي اوپه زیاتیز قطب کې راکښل کیږي ( راکښنتیلو هنه).

د کشمکش – یا راکښنسرچیني کمیزقطب د الکرونونو سرچینه بلل کبږي، زیاتیز قطب د الکرونونو ډوبووني.

راکښنسرچینه یا کشمکش- یا برېښناسرچینه = د برېښنا (الکترونونو ) لپاره تیلوهن آله

Spannungsquelle = Antriebsgerät für Elektrizität (Elektronen)

یادونه:د کشمکش- یا راکښنسرچیني لپاره زیاتوخت وینه د برېښناسرچینه هم کارول کیږي. دا وینه برېښنا سرچینه فزیکي حالت فقط نا ټیک په ګوته کوي.

یوځایونه ( ټولګه): برېښنا جریان یا - بهیدني لاندې موږ د برېښنایی( الکترونونو) ګردی ځغاسته پوهیږو(یعني چې په یوه ګردی ګرځي).

دا خپله تیلوهنه په یوه راکښن - یا کښمکښ سرچیني کې لاس ته راوړي. په کاروونکي (کاراچوونکي یا استعمالونکي) کې د الکترونونو بهیدنه په کراره یا بتي کیږي. داچي بهیدنګردی باید بنده یا تړلې وي، نو د راکښنسرچینه او کارونکی تلنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه تلونو یا لارو یا نلونو له لارې سره تړلي دي.  وروړوني او راوړونی یا
وروړونکی اوراوړونکی تلوني.

# برابره – او بدلیدن – یا ردبدلبهیدنه

دبرابر – او بدلیدنبهیدني په منځ کې توپیر څه کې پروت دی؟

تجربه: یورنا څراغ  د پیتری همداسې د یوه بایسکلماشین سره په کار لویږي.

تحربه: یوماشین د بټري همداسې د بایسکل رڼاماشین سره په کار لویږي.

کتنه: یوه بیټري الکترونونه تل په همغه یا برابره لور بيايي. دا یوه برابربهیدنه جوړوي یا منځ ته راوړي. د بایسکل رڼا ماشین  سره ټیلوهنه(انتریب د الکترونونو ټیلوهنه) یو ځل په یوه لور اوبل ځل په بل لور سرته رسیږي. موږ په ردبدل لور برېښنايي ټکانونه ( د بهیدنټیلوهني)  لرو: ردبدلبهیدنه. د بدلیدني په ترڅ کې الکترونونه لږ وخت نه بهیږي. بیا څراغ مري، ماشین ودریږي.

ردبدل بهیدنګردی د مودل یا نمونې په څیر

Der Wechselstromkreis als Modell.

د ښی څیري الماني په پښتو لکه تل: وروړنه یا ورلیږنه، پمپ، لګښتونی یا کاروونی، د اوبو مودل، ردبدل بهیدنه(د برئښنا)،بیرته وړنه یا ورلیږنه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

يادونه: زموږد اړتيا پوره کيدو جال د ردبدل بهيدني سره په کار لويږي .

دا يو د ۵۰ هرڅ فرکونځ لري(۵۰ هرڅه په دې مانا دی، چې ۵۰ لړزېدنې

په ثانيه کې لري).

د دې فرکونځ سره موږپه سترګو کوم توپير نه سو ليدلي يا نه شو درک کولی.

تولګه: يوه ردبدل بهيدنې لاندې موږبهيدنه پوهيږو، چې تل پرلپسې خپله لوربدلوي. د چټک يوبل پسې بدليدنه کې لا الکترونونه هلته اودلته لړزيږي. دا نورپوره ګردی ګرځيدنه سرته نه رسوي.

زموږبرېښنايي اړتياپوره کيدو جال د ۵۰ هرڅ ردبدلبهيدنې سره کار کوي.

دا د الکرونونو هلته اودلته په ثانيه کې ۵۰ ځله تکراريږي.

## الکتروستاتيک **Elektrostatik**

ستاتيکي برېښنا **Statische Elektrizität**

د زياتيز او کميز بار په منځ کې قوې يا زورونه

**Kräfte zwischen positiver und negativer Ladung**

برېښنا په ارام حالت کې **Elektrizität im Ruhezustand**

د الکترونيکي يا برېښنايی بار اتومي روښانونه

**Atomistische Deutung der elektrischen Ladung**

پوښتنې:

**ستاتيکي برېښنا Statische Elektrizität**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا برېښنايي څرګندېدني لا هغوپخوانيو يونانيانو او په احتمال ( اټکل؟) سره نوري انتيکې نړۍ ته هم څرګندې وې. مګر د لومړي د منځمهال Mittelalter څخه راپه دېخوا دا څرګندېدني سيستماتيک و څېړل شوې.

ولې وېښتان د ږمنځولو په وخت سره نښلي؟؟؟؟

له څه څخه په يوه مصنوعي غالی يا د موټر څخه په کښته کيدوکې يوه برېښنايي وهنه يا ټکان ( بنه يې: ټيلوهنه) منځ ته راځي؟

ازماېښت: يوه مصنوعي لښته د يوه ټوټي وړی سره مښل کيږي. (-) بارازماېښت د Glimmlampe oder mittels Mikroamperemeter سره. يو Eine Plexiglasplatte يا يوه لښته د پومبې Zellstoff (Watte) سره مښل ګيږي. د (+) بارازماېښت؟

د الماني پښتو له ک وښ لور ته: د الکترونونو زياتوالی، کلک ربړ، د الکترونونوکمښت،د کلس لښته

د وړيوټوټه، د اکلترونونو کمښت، د وريښمنو ټوټه،، د الکترونونوزياتوالی.




که د يوې مصنوعي ټيکې لښته د وړی سره ومښل شي، نو هغه برېښنايي کميز بار اخلي.

که يو Plexiglasstab mit Zellstoff (Watte) د پومبې سره ومښل شو، نو دا زياتيز باريږي. مورډ برېښنای کميز- او زياتيز بار په منځ کې توپير کوو

د باربرېښنا يا چارج نوربېلګې:

د بيلګې په توګه مونيتور. ټانکځايونه او د ټانکموټر، نايلونکميس، مصنوعي قالينه، جکړ، برېښناوړونی( د تندر وړونی).

(c) ketabton.com: The Digital Library

په فلز تنونون باندې الکترونونه ( برېښنا) ځايبدلونکې ده ( تيلوهونکې ده)، دا وړونکې( لنډ: وړونې) بلل کيږي. د مصنوعي شيانوبدنونوباندې الکترونونه( برېښنا) نه شي تيلوهل کيدی، دا نه وړونکې يا ځانله شوي Isolatoren بلل کيږي

د کميز او زياتيزبار په منځ کې زور

## Kräfte zwischen positiver und negativer Ladung

ولې په ږمنزولو کې وېښتان په ږمنځه پورې نښلي؟

ازماېښت: يو څرخيدونی مصنوعي ډانګ يا لښته يا Plexiglas مصنوعي تيکي – وړی (-) (+) Plexiglas - Watte الکتروستاتيکي بنستيز قانون را ښايي.

لاندې څيرو کې له کين کښته: کلک ربړ،تيلوهل يا ردول، کلک ربړ.ښی: ګلاس،سره راکښل،کلک ربړ




جمله: الکتروستاتيکي بنسټقانون:

برابرنوميزالکتريکي بارونه يوبل ردوي يا تيلوهي، نابرابرنوميزالکتريکي يا برېښنايي بارونه يوبل سره راکاږي.

د يوه الکتروسکوپ Elektroskop سره الکتريکي يا برېښنhيي بارونه ښوولکيدی شي؟

| | |
|---|---|
| الکتروسکوپ په الکتريکي زورقانون باندې ودان دی، په يوه فلزي کوټی کې يو فلزي لښته ځانله شوي ننيستل شوي. په دې يو په اسانه خوزنده فلزي ښودونی راړل | کميز بار دی |

(c) ketabton.com: The Digital Library




شوی یا نښلول شوی. که دا په یو بار باندې بار شي، نو دا په لښته او ښودونې برابرډوله وېشل کيږي. د بارشوي بار د څومره والي په کچه ښودونی وهلکيږي، ځکه چې برابر بارونه یوبل وهي. د الکتروسکوپ سره بار په کچه کيږي.

ټولګه:

د برېښنا دوه ډولونه پيژنو، زياتيز او کميز. که برېښنا په يوه فلزي بدن د بار په څير راوړل شي، نو هغه په ده (په فلزي بدن) وېشلکيږي، ځکه چې هغه وړونی دی، دا په دېمانا چېبرېښنا وړي. په بيلوشوو يا بيلساتونکو راوړلشوې برېښنا يا الکتريځيتي نسبتآ کلک ځای په ځای دي. د دوو برېښنابارشوو تنونو په منځ کې زور اغيزلري:

برابرنوميز بارشوي تنونه يوبل پورې - يا ټيلوهي، نابرابرنوميز تنونه يوبل راکاږي.

( دا د مګنيت د زورقانون سره هم پرتله کړی).

برېښنا يا الکتريسيتي په ارام حالت کې <u>Elektrizität im Ruhezustand</u>

برېښنايي بار ، برېښنايي زور.Elektrische Ladung, elektrische Kräfte

د برېښنايي بارونو وړوني الکترونونه او اتمزري دي. موږ دوه بارډولونه توپيروو:

کميز بار د الکترونونونو بار دی، زياتيز بار زړيبار يا د زړي بار دی.

برېښنا نه جوړيږي (نه توليديږي)دا د باربيليدنې له لارې منځ ته راځي. فورمال ټول بدنونه په ځان کې برېښنا وړي. په يوه بې اغيز يا ناپيلي بدن کې د برېښنا دواړه ډولونه په برابره ډېری ( اتم جوړښت) شتون لري. الکتريځيتي د ټولو شيانواتمونوکې خوندي ده. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم زړي زياتيز ، د الکترونونه د اتم په پوښ کې کميز بار دي. په نورمال ډولدواړه بارونه سره برابريږي، اتمونه بې اغيز يا ناپيلي دي. په ځانله شوو کې اتمونه او هم الکترونونه په ځای کلک دي. په وړونو کې خوزنده الکترونونه شته. که الکترونونه په خوزښت راشي، نوسړی يوه الکتريکي بهيدنه لاس ته راړي.

الکتريکي ورشو. Elektrisches Feld.

د بار تن په هوا (فضا) يو الکتريکي ورشو پيدا کيږي.ه دوی کې نورالکتريکي بار تنونه زور اخلي.( د مګنيت ورشوسره يې‌پرتله کړی).

جکړ.: Das Gewitter.

په جکړ کې د وريځو يا د وريځې او ځمکي په منځ کې باربرابري يا انډول منځ ته راځي.

په ورځني يا ورسره بلده توکه ټول شيان په بار برابردروندوالي کې پيداکيږي يا دي.
موږوايو، چې دا بار نه دي. که د بيلګې‌په توګه مصنوعي لښته د وړی سره ومښو، نو باربيلوالی منځ ته راځي. دا لښته برېښنايي کميزه باريږي( د الکترونونو زياتوالی). که پلکسيګلاس د د پومبې سره ومښل شي، نو دلته هم يو باربيلدنه منځ ته راځي. په دې حالت کې لښته زياتيز بار په ګوته کوي( د الکترونونو کموالی).

په مصنوعي تيکه يا پلکسيګلاس باندې بارونه بې خوزښته دي، دا کيدی د شي په يوه ټاکلي ځای کې شتون ولري. د دې په خټ که څوک الکتريکي بارونه په فلز، د بيلګې په توګه فلزي غونډاري راوړي، نو بار په ټول تن برابرډوله وېشل کيږي.

په ځانله شوويا بيلو شوو Isolatoren باندې الکتريکي بارونه بې خوزښته دي، په الکتريکي يا برېښنايي وړونو باندې الکتريکي بارونه خوزنده دي.

د الکتريکيبارونو په منځ کې زوراغيز لري.

برابرنوميزبارونه يوبل پورېوهي يا ټيلوهي، نابرابرنوميز بارونه يوبل راکاږي.

موږد الکتروسکوپ Elektroskop سره ښوولی شو، چې ايا يو تن باروړونکی دی که نه

## باربيلدنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په بهيدنګردئ کې کچون او شميرنلويي.**

Mess und Rechengrößen   im Stromkreis

- د راکښنپيداکيدني يا ــجوړېدنې ډولونه**Arten der Spannungserzeugung**

- راکښنکچونه   **Spannungsmessung**

- خوځنده بار**Bewegte Ladungen**

- الکتريکي – يا برېښنايي بهيدنه**Der elektrische Strom**

- په بهيدنګردئ کې کچونه **Messungen im Stromkreis**

- بهيدن – راکښنکچونه**Strom - Spannungsmessung**

- مقاومت اود اوم قانون**Widerstand und Ohmsches Gesetz**

- پرلپسې تړنې او مقاومتونه**Reihenschaltung von Widerständen**

- پوښتنې

- د راکښنپيداکيدني يا ــجوړېدنې ډولونه

يادونه: زه راکښنه ليکم، خو دا په ختيه راکښن – ټيلوه ده. دې ته دې د ګرانولوستونکو همدا د اوسه پام وي.

که برېښنايي يا الکتريکي بارونه بيل شي، نو دوی هڅه کوي بيرته ځانونه برابر کړي.د دوي په منځ کې زوراغيز منځ ته راځي، چې دا الکتريکي راکښنه ( يا يې نوره هم بنه: راکښن-ټيلو هنه ( کشمکش)) بلل کيږي. که څوک وغواړي الکتريکي راکښنه جوړه يا توليد کړي، نو بايد بارونه بيل کړي.

ورته واليتجربه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

فنر – زور - فنرراکښنه Feder - Kraft – Federspannung

راکښنجوړونه د سوليدو له لارې

ازماېښت:يو ګلاس- يا مصنوعي تيکه د يوې تيکي سره مښل کيږي.

د ځانله شوو ټيکوسره د سوليدو له لارې باروښه سره بيليږي. ددې باربيليدني په بنسټ يوه الکتريکي راکښنه منځ ته راځي. دا راکښنجوړيدنه تخنيکي زيات وخت ناغوښتوني ده.

<u>د کيمياوي کړنو له لارې راکښنجوړېدنه</u>

ازماېښت: کوپفر- ځينک- تيم په منځ کي په کوپفرسولفات کي ډوبشوى کاغذ کيښودل کيږي.

دوه بيل وړوني په يوه وړونى بهيدونکي کې ډوبيږي، باربيليدنه منځ ته راځي. د دواړو وړونو په منځ کې يوالکتريکي راکښنه منځ ته راځي.

تښنيکي کارونه: ګالواني توکي، اکومولاتورونه.

<u>د اندکشن Induktion له لارې راکښنجوړېدنه</u>

ازماېښت: د مګنيت او وړونپتى له لارې راکښنجوړېدنه.

په يوه ارام مګنيتورشو کي د خوزنده غوټې Spulen له لارې باربيليدنه کيږي يا خوزنده مګنيتونوسره په يوه ارامه غوټه کې.

تښنيکي کارونه: جوړېدونکي يا توليديدونکي په توان – يا زورفابريکو کې، بايسکل دينامو او موټررناماشين کې.

<u>د تودوخې له لارې راکښنجوړېدنه</u>

ازماېښت: تودوخې توکي

که دوه بيلابيل فلزونه يا متال ( د بيلګې په توګه کوپفر/ کونستانتان) په يوه پاى کې سره وتړل شي او د ګنډې په ځاى کې ګرم شي، نو يوه الکتريکي راکښنه جوړيږي، چې د جګيدونکي تودوخې سره زياتيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تخنيکي کارونه يې: تودوخې توکي، د بيلګې په توګه تودوخې‌څرګندونکی
Thermofühler د تودوخې کچونې سره.

<u>د رڼا له لارې راکښنجوړېدنه</u>

ازماېښت: سولارموتور یا لمرماشين

په ټاکلو مادو کې( ګرمانيوم، سيليڅيوم) د رڼا اغيز سره الکتريکي باربيلونه راځي.

تشنيکي کارونه: فوتوتوکي، سولارکوټګۍ یا – حجرې.

<u>د فشار یا کيکاګلو له لارې راکښنجوړېدنه.</u>

ازماېښت. اوراله ( لکه سګرټلګوونکی یا - بلوونی)

د ټاکلو کريستالو ( د بيلګې په توګه کورخ Quarz) په پورته هواره کې د فشار – یا خوزښت تغير سره يوه باربيليدنه منځ ته راځي (Piezo- Elektrizität).

تخنيکي کارونه: لکه بليدنميکانيزم په اوراله( د سګرټ لړونی) کې، کريستالمکروفون، په کورخ ساعتونوکې د لړځيدنې جوړېدنه.

## **راکښنکچونه Spannungsmessung**

که الکتريکي بارونه بيل شي، نو ددوي په منځ کې یوالکتريکي راکښنه منځ ته راځي. دا الکتريکي راګښنه کيدی شي د یوې کچ الې سره کچ شي.

ازماېښت: په بيلابيلو راکښنسرچينو راکښنکچونه

(c) ketabton.com: The Digital Library







د ډېروباترۍ کوټکیو په پرلپسې چالانولو له لارې الکتریکي راکښنه زیاتیږي.

ټول الات اوماشینونه، چې الکتریکي راکښنه ورکوي، الکتریکي راکښنسرچینه يې بولو.

د الکتریکي راکښنې کچیووالی یا کچیوون ته وولټ Volt (Volta) وايو.

د راکښنې له پاره فرمولنخښه U ده.

د دې له پاره سرې لیکي: U = 12 V

په تخنیک کې راکښنه

| | |
|---|---|
| Kohle - Zink – Element سکرو – خینک- توکي | 1,5 V |
| Bleiakkuzelle سرپیغونداریکوټه | 2,0 V |
| Autobatterie د موټرباترۍ | 12 V |
| Lichtnetz رناجال | 230 V |
| Elektrische Eisenbahn الکتریکي اوسپنګاډې | 15.000 V |
| Hochspannungsleitungen جګراکښنوړونې | 3000 V - 400.000 V |
| Blitz(برېښنا) چې په جګړ کې پیښیږي | 1.000.000 V |
| Elektronikschaltkreise الکترونیک ترنګرډې | mV - µV |

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګه: الکتریکي راکښنه د انرژیکارونې لاندې د بیلابیلومخنخښنو بیل شوو الکتریکي بارونو برابروالي هڅه ده.

فرمولنخښه U

یوون یا یووالی V

ناربیلیدنه له لاندي لارو کیږي:

منبل یا سولول، کیمیاویکارونې، اندکشن، تودوخي، رڼا او فشار.

د الکتریکي بار اتومیکي روښانونه

## Atomistische Deutung der elektrischen Ladung

- (د بور اتممودل) **(Bohrsches Atommodell)**.

- یونی-کونه یونونه**Ionisierung, Ionen**.

- د باربیلیدنې له لارې راکښنجوړېدنه **Spannungserzeugung durch Ladungstrennung**

- پوښتنې

- اتم (د بور اتممودل)

د یوې تیکي خورا کوچنۍ برخې اتومونه بولو.

اتم د اتم له زړې او اتمپوښ څخه جوړدی.

نیمی(قطر) یې نږدې $1 \times 10^{-9}$ m ( 1 / 1000.000.000 m) ..... 0,1 دی.

د اتم نږدې ټوله کتله د اتم زړې کې راټوله ده. زړی له پروتونونو او نیوترونونو څخه جوړدی. پروتونونه الکتریکي زیاتیز(مثبت) بار دي. نیترونونونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

الکتریکي بې اغیز یا ناپیلي بار دي. هرپروتون  دیوي ټاکلي الکتریکډېرۍ وړونکی دی، داسي په نامه الکتریکي توکیزبار.  اتمزړی د اتم په منځتکي کې پروت دی اویوه نږدې د

$10^{-14}$ m ( 1 / 100.000.000.000.000 m ) نیمی ( قطر) لري.
الکترونونه د اتم په زړي د بیلا بیلو څرخیدنلارو سره راڅرخي. دا الکتریکي کمیزبار دي. الکتریکي څرخونلاري الکترونونو پوښ (لنډ: پوښ) بلل کیږي.
هر الکترون د کمیز  الکتریکي توکیزبار وړونکی دی:

| | |
|---|---|
| د یوه الکترون توکیزبار:<br>د یوه پروتون توکیزبار: | $e_- = -1{,}6 \cdot 10^{-19}$ As<br>$e_+ = +1{,}6 \cdot 10^{-19}$ As |

د یوه پروتون توکیزبار  همغه ارزښت لري، خویوه زیاتیزه نخښه لري.

یو اتم  تیک دومره ډېر زیاتیز پروتونونه لري لکه کمیز الکترونونه، نو له دې امله الکتریکي بې اغیز یا ناپیلی دی. په لاندې څیره کې: اتمزړی، اتمپوښ

| | |
|---|---|
| اتمجوړښت:<br>اتمزړی: نیوترونونه، پروتونون؟ اتمپوښ: الکترونونه.   پروتونونه الکتریکي زیاتیز دي پروتونونه الکتریکي بیباره دي. الکترونونه الکتریکي کمیزدي. | <br> |

| | |
|---|---|
| کوپفراتم:<br>کوپفر اتم د بیلګي په توګه ۲۹ پروتونونه لري، ۲۹الکترونونه او ۳۴ نیوترونونه اتم الکتریکي بې اغیز یا ناپیلی دي، ځکه چې زیاتیز او کمیز بارونه یې برابر لوي دي. | <br>Kupfer Cu |

(c) ketabton.com: The Digital Library

الکترونونه د ډېرې جګې چټکتیا (ca. 2200 km/s) سره په اتمزړي را څرخي یا راګرځي. د الکترونونو د کمې ډېرۍ سره سره د جګې چټکتیا له امله د ګردۍ خوزښت په بنسټ یو ستر تېښتیدنزور منځ ته راځي. که د نابرابرنومیزو الکتریکي بارونو په منځ کې راکښنزور نه وي، نو الکترونونه به د اتمزړي په څرخونلار نه وی پاتې شوي، بلکه دا به له دې الوتي وی. د دې له پاره چې الکترونونه وکړای شي په خپله څرخونلار پاتې شي، باید الکتریکي راکښنزور همدومره لوي وي لکه تېښتیدنزور.

| | |
|---|---|
|  | په یوه الکترون زورونه:<br><br>Zentrifugalkraft (<br>تېښتیدنزور) ټیک همدومره لوي دی، لکه الکتریکي راکښنزور. |

ټولګه: د اتمزړي او الکترونو په منځ کې الکتریکي زورونه واک لري. د دې الکتریکي زورونو بنسټ یا پیښیدنسته الکتریکي بارونه دي. برابرنومیز بارونه یوبل ټیلوهي اونابرابرنومیزیوبل راکاږي.

<u>یوني کونه، یونونه</u>

یو اتم کړی شي ډېر الکترونیکي پوټکي ولري. د دننني( زړیتږدېپوټکي) الکترونونه د لار له مخې کلک اتمزړي پورې تړلي. د دباندني پوټکي اکترونونه د زړي څخه د لرې واټن له امله په ښټ کم کلک تړلي دي. د دباندني پوښ الکترونونه <u>Valenzelektronen</u> بلل کیږي. دا د یوې تیکي الکتریکي یا برېښنایي ځانښیونه یا حالت په ګوته کوي.

| | |
|---|---|
|  | والنځ الکترونونه.<br><br>په دباندني پوښ درې والنځ الکترنونه پراته دي.<br><br>الومینیوم اتم:<br><br>زړي: ۱۳ پروتونونه، ۱۴ نیوترونونه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| پوښ: ۱۳ الکترونونه | |
|---|---|

که د یوه بې اغیز یا ناپیلي اتم د الکترونپوښ څخه یو الکترون ځان ازاد کړي، نو د اتم څخه کمیزبار As $1{,}6 \times 10^{-19}$ - لرې کیږي. اتم له دې سره د یوه زیاتیز بار زیاتوالی لاس ته راوړي یا د یوه زیاتیز بار زیاتوالی اخلي. دا ډول اتمونه زیاتیزیونونه بلل کیږي. یو ناپیلی اتم کړی شي نور ورزیات الکترونونه هم واخلي. په دې حالت کې کمیز بار زیاتیږي.دا ډول اتمونه کمیزیونونه بلل کیږي.

| | |
|---|---|
| <br>2 Positive und negative Ionen | د یوه الکترون ورکړې له لارې یو زیاتیز یونو منځ ته راځي.<br>د یوه الکترون نیونې یا لاس ته راوړنې له لارې کمیز یون منځ ته راځي. |

د باربیلیدنې له لارې راکښنجوړېدنه

Spannungserzeugung durch Ladungstrennung

له دې د مخه پام یا فکر څخه نسبتآ ساده دی، چې الکتریکي راکښنه روښانه کړو.

څرګنده ده، چې د بیلابیلو مخنخښو الکتریکي بارونه یوبل راکاږي( کلکربړ-او د ګلاس لښته).

اوس نوپه ټولیزه توګه ویلی شو:

د مختلفو مخنخښو بارونو په منځ کې زوراغیزونه منځ ته راځي. دوي دا هڅې لرې چې سره برابر شي. دا په دې مانا چې اتمونه غواړي بیرته خپل ناپیلي حالت واخلي. په تخنیکي راکښنجوړېدوسره د انرژي کارونې سره دا په هره تیکه کې خوندي زیاتیزه او کمیزه باروړونې یوله بل بیلیږي. له دې سره دوه قطبونه جوړیږي یا منځته راځي. په زیاتیز قطب کې الکترونونوکمښت په واک کې دئ او په کمیزقطب کې الکترونونوزیاتوالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوزنده بارونه**Bewegte Ladungen**

فلزي وړوني اونه وړوني**Metallische Leiter und Nichtleiter**

فلزي وړوني اونه وړوني

ټول کارمواد یا –تیکي، چې په الکتروتخنیک کې کارول کیږي لاندې خویونه لري:

هغوي (برېښنا) بهیدنه وړي او یا بهیدنه نه وړي.

مواد، چې بهیدنه وړي( برېښنا) وړوني( وړونکي) بلل کیږي.مواد، چې بهیدنه نه وړي (برېښنا) نه وړوني بلل کیږي. موږ نه وړوني ځانله شوي بولو.

| | |
|---|---|
|  | غوره وړونکارتیکي کوپفر او الومینیوم دي. ولې دا او نور فلزات ښه وړوني دي؟ فلزي اتمونه د منډو ډوله جوړښت په څیر د ګڼو اتمونو سره ) لکه په یوه کارتن کې مندتي) جوړوي. له دې سره هر فلز خپل والنځ اکترونونه ورکوي، دا زیاتیز قطب کیږي. د کریستالمندو په دننه کې والنځ الکترونونه ازاد خوزند دي. دا ازاد الکترونونه هم بلل کیږي. د مخامخ ځیرې د المانیپېنتو: د فلز کریستالمندو، اتمیون، ازاد الکترونونه |

ازاد الکترونونه زیاتیز یونونوباندې داسې راټولیږي لکه د میاشو سیل یا رمه...

یو د $1\ cm^3$ د کوپفر برابر شیږاړخی ( سترګی، دانه یا مکعب) نږدې $5 \cdot 10^{23}$ ازاد الکترونونه لري.

تیکي، چې د یوه جګ ګڼون یا شمیرالکترونونه لري، الکتریکي وړوني دي.

نه وړوني

(c) ketabton.com: The Digital Library

تيکې يا مواد، چې هغه فقط کم ازاد الکترونونه لري ځانله( ځانله شوي) بلل کيږي.

ځانله په الکتروتخنيک کې همدومره غوره يا مهم دي لکه ورونې.

ځانله: مصنوعي تيکې، کلاس، کيراميک، ربړ، رنګونه، تيل، ګليمر، اسبست.

د فلزي ورونو له پاره بيلګې او د هغوي د پوټکينيووني( چې د دوي پوټکی يې نيولی).

| | | | |
|---|---|---|---|
| Aluminium | Al | 2/8/3 | 3 Valenzelektronen |
| Eisen | Fe | 2/8/14/2 | 2 Valenzelektronen |
| Nickel | Ni | 2/8/16/2 | 2 Valenzelektronen |
| Kupfer | Cu | 2/8/18/1 | 1 Valenzelektron |
| Silber | Ag | 2/8/18/18/1 | 1 Valenzelektron |
| Platin | Pt | 2/8/18/32/17/1 | 1 Valenzelektron |
| Gold | Au | 2/8/18/32/18/1 | 1 Valenzelektron |
| Quecksilber | Hg | 2/8/18/32/18/2 | 2 Valenzelektronen |

بهيدن – راکښنکچونه **Strom - Spannungsmessung**

راکښنکچونه **Die Spannungsmessung**

بهيدن او راکښنکچونه **Strom und Spannungsmessung**

الکتريکي مقاومت **Elektrischer Widerstand**

راکښنکچونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازمايښت: په يوه د رڼا ګروپ  بهيدنکچونه ( په يوه جال اله تړنه).

څه د کولو دي، که څوک په يوه رڼا ګروپ  بهيدنه توانمنه کوي؟

الکتريکي راکښنه د الکترونونو له پاره تيلو هنه ده.

په يوه بهيدنګردۍ کې  د الکترونونو بهيدنه دومره جګه ده،  لکه څومره چې راکښنه جګه وي.  د راکښني يووالی يا يوون وولټ( له Volta) دی.

اوبو ته ورته والی: په يوه اوبه وړوني ( نل)  چې هرڅومره د اوبو فشار لوي وي، همغومره د اوبه وړوني په منځ کې اوبه بهيږي.

ازمايښت: راکښن ازمايښت په بيلابيلو راکښنسرچينو.

باترييرلپسي تړنه.







د ډېروباتري پرلسي تړنو له لارې الکتريکي راکښنه جګيږي.

په يوه بهيدنګردۍ تړلي کاروونې (استعمالونکي) باندې راکښنه څنګه کچيږي؟




که په يوه کاروونې  راکښنه کچيږي، نو د راګښنکچون اله دې کاروونې سره غبرګه چالان کړي يا وتړي..

د راکښنکچوني سره په کچون اله کې لږ بهيدونی بهيږي.

په ډېر وخت کې له دې سرې تيريدی شي يا ورته په ډېرو حالتونو کې پام ونه شي يا د پامه وغورزول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الکتریکي راکښنه د ټیلوهني له پاره یوه کچه ده، کوم چې الکترونونه یې په یوه بهیدنګردی کې لري. هغه په وولټ کچیږي. د راکښنکچوني له پاره اړین نه دی، چې بهیدنګردی سره بیله شي. د راکښنکچون اله ( وولټمتر Voltmeter ) کاروونې سره غبرګ چالانیږي یا تړل کیږي. د بیټري په پرلپسي چالنوني راکښني سره زیاتیږي. دلته باید د باتري کمیز قطب د بلې باتري د زیاتیز قطب سره وتړل شي.

## بهیدن او راکښنکچونه

په یوه رڼاګروپ باندې په دې برابروختیز بهیدنه او راکښنه دې په کچه شي. دلته دې وازمایل شي، چې بهیدنه څنګه بدلیږي، که راکښنه بدله شي یا تغیر وخوري.

### کچونچالانونه Messschaltung

بهیدنکچوناله( امپیرمتر Amperemeter ) د کاروونې پسې ، راکښنکچون اله وولټمتر د کاروونې سره غبرګ چالانیږي. دا بهیدنه ډېره کوچنۍده و هغې بهیدنې ته، چې په رڼاګروپ کې بهیږي. په امپرمتر کچوونلاس ته راوړنه ډېره کمه ناسمیږي یا غلطیږي.




## الکتریکي یا برېښنايي مقاومت

که یوه فلزي وړوني کې بهیدنه بهیږي، نو ازاد الکترونونه د وړونتیکي Leiterwerkstoffs په منځ کې خوزیږي. اتمونه په خپل ارامځای باندې هرې لورې ته لړزیږي یا ټال وهي.له دې سره الکترونونه په خپل خوزښت کې ورتنبه کیږي یعنې مخه یې ورنیول کیږي. نو د هرې وړونی الکتریکي بهیدنې مخامخ یومقاومت مخامخ کوي، کوم چې د راکښنې سره باید له منځه یووړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







په بهیدنګردی کې کچونې **Messungen im Stromkreis**

- بهیدنکچونه **Die Strommessung**

- بهیدنکچون الې **Strommessgeräte**

- د باتري کپه ښیتې **Kapazität von Batterien**

## بهیدنکچونه

د دې له پاره چې په یوه الکتریکي یا برېښنايي بهیدنګردی کې بهیدنه په کچه کړو، یوې بهیدنالې ته اړتیا لرو. دا چې په فزیکي لویوکې بهیدنه په امپیر کچیري، نو دا بهیدناله هم امپیرمتر بولو.

مورښنګه بهیدنه په یوه بهیدنګردی کچولی شو؟

ازمایښت: د رڼاګروپ سره په یوه بهیدنګردی کې بهیدنه کچولکیري

په بیلابیلو ځایونوکې کچونه.

په بیلابیلو کاروونکو ( استعمالونکو ) کې کچونه

| | |
|---|---|
| <br>Stromkreis mit Amperemeter | د دې له پاره چې بهیدنه کچ شي، باید بهیدنګردی په یوه ځای کې بیله شي. هلته بیا امپیر متر راوړل یا اینښول کیږي. په کوم ځای کې باید امپیرمترپه بهیدنګردی ورزیات شي؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
|  | دا بيخي بې توپيره ده، چې په کوم ځای امپيرمتر په بهيدنګردی کې ورزيات يا وتړل شي. غوره دا دی، چې ټول الکترونونه په کچاله کې وبهيږي. د بهيدنګردی هرځای کې بهيدنه برابر توان يا قوت لري. |

پام: يوه بهيدناله بايد هيڅکله په يوه راکښنسرچينه پورې ونه تړل شي. دا به سملاسي خرابه يا له منځه يووړل شي.

د دې له پاره چې کوچني او لوي بهيدنتوانونه په کچه کړای شو، موږ امپير يووالي ته مخنومونه ورزيات کړي دي.

<u>د بهيدنتوان يووالي يا يوونونه يا واحدونه</u>

| | |
|---|---|
| 1 kA = 1000 A | (Kiloampere) |
| 1 mA = 1 / 1000 A | (Milliampere) |
| 1 µA = 1 / 1000.000 A | (Mikroampere) |

د بهيدنتوان بيلګې

| | | | |
|---|---|---|---|
| Glimmlampe | 0,1 - 0,3 mA | Taschenlampe | 0,07 - 0,6 A |
| Glühlampe (230 V)رڼاګروپ | 0,1 - 0,6 A | Heizkissen | 0,3 A |
| Bügeleisen وتو | 2 - 5 A | Kochplatte | 5 - 10 A |
| Straßenbahn کوڅه ګاډی | 150 A | E – Lok | 1000 A |
| Blitz تندر | 1.000.000 A | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهيدنکچون اله يا د بهيدنې د کچونې اله

په لاسي کارونو اوتخنيک کې بايد بيلابيلې بهيدنې کچ کړای شي، چې د هغو ارزښتونه يو له بل پوره لرې پراته وي.

برابربهيدنه يا بدلبهيدنه

د تلويزيون جالاله نږدې 1A

ترانزستوراله نږدې 1 µA

يوه کچوناله د 1µA کچورشو سره به د 1A بهيدنې سره له منځه ولاړه يا خرابه شي. موږ نو بيلابيلو امپيرمترونو ته اړتيا لرو، دا ګران دي ډېر لګښت لري. له دې امله ډېرځليزکچ الو ته وده ورکول کيږي، دا په يوه اله کې ډېر کچون ورشو ګانې لري، چې چالانبدلونوږ وي. د دې له پاره چې د µA بهيدنه کچ کړای شو، بايد دا کچوناله يو غښتلوونی يا زورمندوونی ولري. دا ډول کچ الې يوه ورزياته باتري لري.

موږ ښودون – يا ښکاروونکچون الې او داسې د ديجيتال ښکارنده سره توپيروو.

د ديجيتال کچوون-الې غوره والی.

- دا د ميخانيکي کچوون الو څخه ارزانه دي.

- ساده لوستوږ ( د کچښودنې شميربدلون ته اړتيا نه شته)

- خورا کوچني بهيدنې هم کچولکيدی شي.

- نا غوره والی يا زيان

- تل باتري ته اړتيا ليدل کيږي.

- جګ-ټيټيدونې کچلويې نه شي کچيدی.

د باتريو کاپاځيتي( توانمندي يا ظرفيت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

باتري په بهيدنګردۍ کې الکترونونه ګرد ګرځوي. د الکترونو ټيلوهنه ( راکښنه) په هره باتري کې په وولت ورکړشوی. په خواشينۍ سره په دې اله په دې هکله څه نه دې ورکړ شوي، چې باتري څومره کار ورکوي يا کار توان لري.

ولې؟

لويه بهيدنه: باتري زر تشيږي.

د باتري کاردوام کړی شي سرۍ د باتري د کاپاځيتي څخه وشميري. باتري.

د باتري کاپاځيتي په امپيرساعت (Ah) ورکول کيږي. 1 Ah په دې مانا، چې کړيشي باتري يو ساعت د يو امپير متر سره په کار واچول شي يا لس ساعته د 0,1 A سره.

کاروخت = بهيدنتوان/کاپځيتي

Betriebszeit = Kapazität / Stromstärke

| Batterietyp دبيتري تيپ | Spannungراکښنه | Kapazität | max. Strom ماکسيمال بهيدنه |
|---|---|---|---|
| 4,5 V Flach | 4,5 V | 1,5 Ah | 2,0 A |
| 3,0 V Stab | 3,0 V | 0,4 Ah | 1,5 A |
| 1,5 V Mono | 1,5 V | 5 A h | 5 A |
| 1,5 V Mignon | 1,5 V | 0,6 Ah | 2,0 A |
| | 9 V | 0,25 Ah | 0,4 A |

د ژباړي يادونه: ماته به بخښنه وکړۍ، چې دا پورته باتريګانې درته روښانولی نه شم.

ټولګه: بهيدنتوان اود هغې کچونه. د الکتريکي بهيدنې لويوالی داسې کچيږي، چې سرۍ بهيدنګردۍ سره بيله کړي اوپه بيليدځای کې يوه بهيدنکچون اله جوړه کړي. په کچون اله باندې بهيدنتوان په امپير (A) لوستل کيږي. امپيرماتبرخي په مخورکړو (Milli) m او

(c) ketabton.com: The Digital Library

μ (Mikro) په نخښه شوي دي. د يوه نابيلشوي بهيدنګردۍ په هرځای کې بهيدنتوان برابر لوي دي. بسيا کوي، چې دا په يوه ځای کې په کچه شي.

## د مقاومتونو پرلپسي ترړنه **Reihenschaltung von Widerständen**

- پرلپسي ترړنه

درې رڼا ګروپونه پرلپسي ترلکيږي.

بهيدنه او راکښنه په کچه کيږي.




که مقاومتونه پرلپسي وترل شي، نو راکښنه U په يوګونو مقاومتونو وېشلکيږي.

$$(1)\quad U = U_1 + U_2 + U_3$$

په هر مقاومت کې بهيدنه I بهيږي.

د اوم قانون له مخې په هر يوګونومقاومتونو د هرې راکښنې له پاره باورلري:

$$(2)\quad U_1 = I \cdot R_1 \quad U_2 = I \cdot R_2 \quad U_3 = I \cdot R_3$$

له (۱) او(۲) لاس ته راځي:

$$(3)\quad U = I \cdot R_1 + I \cdot R_2 + I \cdot R_3 = I \cdot (R_1 + R_2 + R_3)$$

د اوم قانون $R = \frac{U}{I}$ له مخې او د (۳) سره باورلري:

$$R = \frac{U}{I} = \frac{I \cdot (R_1 + R_2 + R_3)}{I} = R_1 + R_1 + R_3$$

(c) ketabton.com: The Digital Library




په پرلپسي ترنو کې ټول مقاومت یا یې هغه ځاینیوی مقاومت د ټولو یوګونو مقاومتونو زیاتون دي.

ذ پرلپسي ترنو له پاره باورلري:

| | |
|---|---|
| $R = R_1 + R_2 + \ldots + R_n$ | ټول مقومت |
| $U = U_1 + U_2 + \ldots + U_n$ | ټوله راکښنه |
| $U_1 = I \cdot R_1 \quad U_2 = I \cdot R_2 \quad \ldots \quad U_n = I \cdot R_n$ | راکښنه په مقاومت |

شمیرنبیلګي:

بیلګه ۱ :

یوه د سیل ونه ۲۰ برابر رڼا ګروپونه لري.

رڼاځنځیر په $U = 230\ V$ پورې تړلکیږي.

د کومې راکښنې لهپاره دې رڼاخراغونه ایښول شوي وي؟

$U = U_1 + U_2 + \ldots.. + U_{20}$

دا چې ټول رڼاځراغونه برابر دي، په هر یوه د ټولې راکښنې $1/20$ پروت دي.

نو $U_1 = U_2 = U_3 = \ldots.. = U_{20} = 230\ V / 20 = 11{,}5\ V$

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلګه ۲ :

دا پاتې ارزښتونه ولیکی.

ورکړي:

$U = 50\ V \quad R_1 = 16\ \Omega \quad I = 2\ A$

غوښتوني:

$U_1 \quad U_2 \quad R_2 \quad R$

$$U_1 = I \cdot R_1 = 2\ A \cdot 16\ \Omega = \underline{\underline{32\ V}}$$

$$U = U_1 + U_2$$

$$\Rightarrow U_2 = U - U_1 = 50\ V - 32\ V = \underline{\underline{18\ V}}$$

$$R_2 = \frac{U_2}{I} = \frac{18\ V}{2\ A} = \underline{\underline{9\ \Omega}}$$

$$R = R_1 + R_2 = 16\ \Omega + 9\ \Omega = \underline{25\ \Omega}$$




بیلګه ۳ : یوه د $4\ V$ رڼاخراغ دي د $U = 12\ V$ راکښني پوري وتړل شي. کوم له مخه مقاومت اړیین دي؟

$$R_1 = \frac{U_1}{I}$$

$$U_1 = U - U_2 = 12 V - 4 V = 8 V$$

$$I = \frac{U_2}{R_2} = \frac{4\ V}{8\ \Omega} = 0{,}5\ A$$

$$R_1 = \frac{U_1}{I} = \frac{8\ V}{0{,}5\ A} = \underline{\underline{16\ \Omega}}$$




بیلګه ۴ : دوه مقاومتونه د $R_1 = 12$ او $R_2 = 36\ Ohm$ سره پرلپسي تړل کیږي. تول مقاومت څومره دي؟ د $12\ V$ سره په ترنه سرى څومره بهیدنه لاس ته راولی؟ برخراکښني $U_1$ او $U_2$ څومره دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$R = R_1 + R_2 = 12\,\Omega + 36\,\Omega = \underline{\underline{48\,\Omega}}$$

$$I = \frac{U}{R} = \frac{12\,V}{48\,\Omega} = \underline{\underline{0{,}25\,A}}$$

$$U_1 = I \cdot R_1 = 0{,}25\,A \cdot 12\,\Omega = \underline{\underline{3\,V}}$$

$$U_2 = I \cdot R_2 = 0{,}25\,A \cdot 36\,\Omega = \underline{\underline{9\,V}}$$




## مقاومت او د اوم قانون **Widerstand und Ohmsches Gesetz**

- د اوم قانون

بهيدنه ځنګه بدليږي يا تغير خوري، که مقاومت لوي شي؟

ازمايښت: په همغه راکښنه په 0,5 m, 1 m, 1,5 m اوږده کونستانتانسيم Konstantandraht

(0,2 mm² )

## د اوم قانون:

که په يوه مقاومت راکښنه ستره شي، نو بهيدنتوان جګيږي.

يا: بهيدنتوان I د راکښني U سره متناسب دی.

که مقاومت په برابر پاتيکيدونکي راکښني سره جګ شي، نوبهيدنتوان کميږي.

يا: بهيدنتوان I و مقاومت R ته په څټ متناسب دی.

| | |
|---|---|
| $R = \frac{U}{I}$ und $U = I \cdot R$<br>د فزيکي يووالوسره: | له $I \sim U$ او $I \sim \frac{1}{R}$ څخه د اوم قانون لاس ته راځي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| راکښنه په وولټV<br>بهیدنه په امپیر A<br>مقاومت په اوم $1\Omega = \frac{1V}{1A}$ Ω | $I = \frac{U}{R}$ Strom = $\frac{\text{Spannung}}{\text{Widerstand}}$<br>بهیدنه= مقاومت/ راکښنه |

اوم قانون په ۱۸۲۲ که له الماني فزیکپوه Georg Simon Ohm ومیندل شو.

په یاد ولره: او کاکا اوم وویل،، جګه راکښنه، جګه بهیدنه.،،

## برېښنامګنیټ Elektromagnete

په کبارځای کې مګنیت څنګه کار کوي؟

ازماېښت: ګنده یا غوټه بېله اوسپنزېي، د اوسپنزرو سره د مګنیتستنو غوټې په څتکړنه، د مګنیتستنو پهڅتکړنه، ستنې راکاږی یا پرېږدی، چې راکښل شي.

ازماېښت: مګنیت له دوه غوټوسره جوړ کړی. قطبونه د مګنیتستن سره په کچه کړی. اوسپنال Eisenjoch کیږدی. اوسپنال په دا منځ کې د د پاپېPappe سره. ستنې زوندي کړي یا پورې وتړی.

الکترومګنیتونه غوټې دي د اوسپنزړوسره.

په ورځنیژوند کې الکترومګنیتونه چیرته شتون لري؟

ازماېښت: زنګمودل

لاندې په پښتو: اوسپنورشو، پرېکېدونکي، زدګمودل، غوټه د اوسپنزړي سره، زنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library




ټولګه: د غوټې په دننه کې یو اوسپنزړی مګنیتي کيږي. دا د ۱۰ څخه تر ۱۰۰ ځله پورې د مګنیتي زورونو ته بیايي یا لاربښودوي. توانمندونه په ځانګړي ډول ستره ده، که اوسپنګردی تړلي یا بنده وي. ډنګډونګ اوزنګوهنه د الکترومګنیتونوساده کاروني دي. زنګ یوځانیز (تل) پرېکوونکي لري.

مګنیتورشو له سیم او غوټې **Magnetfeld von Draht und Spule**

- مګنیتورشو له سیم او غوټې څخه

-الکترومګنیت**Elektromagnete**

- ریلې او تلیفون**Relais und Telefon**
- په مګنیتورشو کې ورونی**Leiter im Magnetfeld**

- الکترومګنیتیکي کچ الې**Elektromagnetische Messgeräte**

- مګنیتورشو له سیم او غوټې څخه

ازماېښت: د پروت غزېدلي سیم مګنیتورشو د مګنیتستن سره په کچه کيږي.

ازماېښت: سیم ولاړوغزوی. د اوسپني کوچنیوغشو او مګنیتستن سره مګنیتورشو په کچه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




یو سیم چې بهیدنه په کې بهیږي له مګنیتورشو څخه د راتنګو ورشوکرښو سره راګیر دي (Hans Christian Oersted 1820).  دورشوکرښو لور د بهیدلور په واک کې ده.

په یاد ولره:  د ښي موټي قانون

که یوسیم چې بهیدنه په کې بهیږي په ښي لاس کې داسې رابند کړې ونیسې، چې غزېدلې غټه ګوته  تخنیکي بهیدلور ښايي، نو دا په سیم راتاو ګوتې د مګنیتورشو لور ښايي.

ازماېښت: د یوې غوټې مګنیتورشو د  Eisenspänen او مګنیتستنوسره کچیږي. د پرتلې له پاره د یوې لښتې مګنیت مګنیتورشو ازمایل کیږي.




یوه غوټه، چې بهیدنه یې منځ کې بهیږي داسې ځان نیسي لکه لښته مګنیت د ترنیرېکیدوړ مګنیتیزم سره.

غوټه قطبونه: د جوړښت او کورکوېستنقانون د کورک وېستنلار له لارې یې پیداکیدنه.

تولکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره برېښنايي بهيدنه د يوه مكنيتورشوخخه بدركه كيږي. يوسيده سيم د ګڼو مګنيتيكي ورشوكربنو رابند وي. د يوې غوټې ورشو ورته بنه لري، لكه د يوې لښتې مګنيت. د غوټې په دننه كې ورشوكربښي نږدې غبرګې ځغلي.د غوټو وتونونو كې وزي اوننوزي. هلته قطبونه شتون لري.

پـه مکنيتورشو كې وړوني **Leiter im Magnetfeld**

- پـه مکنيتورشو كې وړونيتی **Leiterschleife im Magnetfeld**

- د مګنيتورشو شميرنه **Berechnung von Magnetfeldern**

- پـه مکنيتورشو كې (برېښنا) وړونيتی

څه پيښيږي، كه موږ برېښنا بهيدنه تري بهيدونكی سيم يوې مګنيتورشوته راوړو؟

څنګه دواړه مګنيتورشوګاني په يوبل اغيز لري؟

ازمايښت: (برېښنا)وړونيتی د يوه اوسپنالمګنيت مګنيتورشو ته راوړی




